# د پښتو او پښتونخوا د تاریخ څو پاڼې

زموږ د وطن تاریخ که څه هم خورا د برمه ډك او د افتخاراتو وړ دی، مگر متاسفانه ترتیب سوی نه دی، او ډېر په تیاره کښې پاته دی، ما د تاریخونو د مطالعې څخه ځنې یادداشتونه اخیستي دي چي زموږ د ژبې او زموږ د مېنې د تاریخ ځنې ورکي خواوي روڼوي، او ډېر نامعلوم پلونه یې ښکاره کوي اوس یې پښتنو ته وړاندي کوم، چي د طلوع پر پاڼو وساتل سي. (حبیبي)

(۱) آریانا وېجه :-

د آریانانو په زاړه کتاب اوستا Avesta کښې چي درې زره کاله دمخه لیکل سوی دی د آریانانو وطن آریانا وېجه (آریانا واج) بلل سوی او دا کلمه د (ښاغلو د مېنې) په معنا تفسیر سوېده، دغه مځکه له هغو (۱٦) مځکو څخه ده چي په اوستا کښې یې ذکر راغلی دی[۱] دکتور جیگر د المان معروف مستشرق وایي چي دغه مځکه د آریانانو په مځکو کښې خورا مقدسه گڼله کېده او په دریای آمو او زرفشان[۲] رود اوبېده، یوه غرنۍ مځکه وه چي غرونه او ممتنع الوصول کوتلونه یې درلوده، مشهور سیاح میټرمسون د افغانستان او بلوچستان په سیاحت نامه کښې (ج ۱ ص ۲٤٤) او دغسي هم دوکتور فریدریك فون اسپیکل د شرقي آریانا په کتاب لمړي جلد ۳۹۷ مخ کښې د دغې مځکې ذکر کړی دی، او دغو گرزېدونکو د دې ځای د خلکو په دودونو او عاداتو کښې ډېر د اوستا اخلاق او رسوم لیدلي دي[۳]. وېجه خورا زړه کلمه ده، چي د آریانانو د گډې او مشترکي ژبې څخه د اوستا په زاړه کتاب کښې پاته ده دغه زړه کلمه تر اوسه زموږ په پښتو کښې هم سته، په قندهار کښې عامه محاوره ده، چي یو سړی څوك هیڅیري نه پرېږدي نو وایي "د خدای پر اوېجه مي نه پرېږدي".

اوېجه په مجهوله یاء، او زیادت د الف عیناً په هغه زړه معنا تر اوسه په پښتو کښې مستعمله، او په عامه محاوره کښې پاته ده، او دا کلمه دلالت کوي چي پښتو ژبه خورا زړه او عنصر یې ډېر پخوانی دی :

(۲) اروه ، ارگون، روه :-

له هغو شپاړسو مملکتونو څخه چي په اوستا کښې ذکر سویدي یو (اورو) یا (اروه) دی چي دوکتور ویلهلم جرمنی مشهور مشرق شناس او د ژبو عالم اورو، دغه اوسنی ارگون د لوگر د وادی بولي، چي پرملیان پکښې میشته دي، دی وایي:

"د پښین دره چي د اوستا د زمانې د مشهور پهلوان (کرساسپه) افسانه په دغه ځای اړه لري د اروه د ولایت یوه برخه ده، چي د اوستا د زمانې د خلکو و جنوب مشرقي خواته ده، او د سلیمان د غره سلسله په منځ کښې د هغو آریانانو پرته ده چي د افغانستان وخواته دوی د اوستا کتاب او د هند و خواته یې د رگویدا کتاب درلود[٤] او د دغه ارگون په مځکه کښې د اوستا د خلکو تاریخي غلیمان د هغه مشهور پهلوان له لاسه مقهور سوي وه[٥]". د زاړه ایران د کتاب لیکونکی هم وایي، چي (اورو) دغه اوسنی غزني دی، د هند او افغانستان زاړه تاریخ لیکونکي هم دمخه مځکي چي پښتانه پکښې میشته دي (روه) بولي او پښتانه یې (روهیله) یعني د روه خلك لیکلي دي، ښایي چي د روه کلمه د اوستا له هغې زړې کلمې (اروه) څخه راوتلې وي. د پښتو په تاریخ او ادبیاتو کښې هم روه ډېر راغلی دی مثلاً اشرف خان د خوشحال خان زوی وایي:

قاصدان له روه نه راځي مــدت سو
سلام باد را رسوي صفت یې تم دی

(ګلشن روه)

دغسي هم کاظم خان شیدا (۱۱۳۵هـ) ویلي دي:

په هندي ادا يې وکړې په ما چــاري
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

په دې ډول مؤرخينو چي د پښتو مملکت روه باله دغه کلمه درې زره کاله دمخه په اوستا کښي ريښه لري.

(۳) قندهار :-

د قندهار د زاړه نوم او موقعيت په باب کښي تر اوسه قناعت بخښونکي او يکطرفه معلومات نه ندي سوي ، ځکه چي د تاريخ په کتابونو کښي ډېر ښارونه په دغه نوم راغلي دي، نو له دغه جهته د زړو رواياتو په منځ کښي کوم مسلم حقيقت د حتم په ډول نسواى ليکلاى بيا هم دا لانديني معلومات د دغه نوم په بابت کښي زموږ په لاس کښي سته، د قندهار د نوم زوړ ماخذ او خورا قديمه ريښه ښايي چي (کندرو) يا (کاندهروه) وي چي د هند په زاړه ديني کتاب (ريګ ويدا)کښي درې زره کاله دمخه د يوې افسانې په ډول ذکر سوى دى.

دوکتور ويلهلم جيګر المانى مستشرق او ژبه پېژندونکى وايي چي دغه کلمه د اوستا د کتاب په يشت برخه ۱۹ باب ۳۱ فقره کښي هم د (کاندرو) راغلې ده، چي د هندي آريانانو د يوې زړې طايفې نوم وُ [٦] چي د سليمان د غرونو په لمنو کښي او د پښين په درو کښي د اوستا د معروف پهلوان (کرساسپه) په لاس محو سوه، او دغه کلمه د يوناني Kertarpot سره هم تطبيق کيږي [٧].

تر اوستا او ريګويدا وروسته بل قديم کتاب چي د قندهار نوم پکښي راغلى دى د هندوستان حماسي او جنګي افسانه (مهابهارت) دى چي خورا زوړ ګڼل کيږي، او د سنسکريت د ژبي دوهم زوړ کتاب دى تر ويد وروسته. دا کتاب هغه افسانه ده چي د آريايي شهزادګانو تاريخي جګړې پکښي بيان سوي دي [٨] يو له دغو شهزادګانو کورو نومېدى چي مور يې د راجه ګندهار لور وه، دا راجه د هغه وخت مشهور پاچا و، چي مهابهارت يې ذکر کړى دى [٩].

دريم زوړ اثر چي د ګندهارا نوم پکښي راغلى دى د هخامنشي داريوش پر ډبرو ليکونه دي چي ۵۲۱ تر ٤٨٦ کلونه دمخه تر مسيح (ع) يې پاچهي کړې ده، ده په هغو ليکونو کښي چي پر غره يې کړي دي ګندارا په خپلو درويشتو مملکتو کښي شمېرلى دى، او مؤرخين وايي چي مطلب ځني د پېښور او ننګرهار او د کابل مځکي دي [١٠]. هيروډوټ د يونان مشهور مؤرخ چي د تاريخ ليکونکو پلار ګڼل کيږي ليکي چي ګنداري د پښتون له څلورو طائفو څخه يوه طائفه ده [١١].

د برطانيا انسکلوپيډيا چي د سنسکريت د ژبي زاړه خطونه بيانوي ليکي: چي د اشوکا د موريا د کورنۍ مشهور شهنشاه (۲۷۲ _ ۲۳۲ ق، م) اکثر پر ډبرو ليکونه د ګندهارا په حروفو ليکل سوي دي له دغه ليکونو څخه داسي ښکاره کيږي چي تر حضرت مسيح (ع) دمخه بيا د اسلام تر وخته د ګندهارا کلمه موجوده وه او د هخامنشي او هيروډوټ له عصره څخه د پېښور او ننګرهار او کابل مځکي په دغه نامه بللي کېدې، دا خو هغه کتابونه او تاريخي آثار وه چي تقريباً له درو زرو کالو څخه دمخه بيا د اسلام تر عصره د قندهار نوم پکښي ذکر سوى دى اوس به نو موږ وګورو چي د اسلام په عصر کښي دغه نوم څنګه وُ؟ او پر کومو مځکو يا کومو ښارو باندي اينښوول کېدى؟ او اسلامي مؤرخينو په دغه باب کښي څه کښلي دي؟

د اسلامي مؤرخينو معلومات :-

په اسلامي مؤرخينو کښي خورا زوړ د عربو جغرافيا ليکونکى ابن خردادبه دى چي د ده کتاب المسالك

والممالك په ۱۸۸۹ ع کال دی غوجي مشهور مستشرق په لندن کښي چاپ کړی دی.

ابن خردادبه په (۲۵۰ هـ) قندهار د سند په مشهورو ښارونو کښي ليکي[۱۲].

احمد بن يحيى د بغداد مشهور مؤرخ بلاذري چي د فتوح البلدان کتاب يې پنځه کاله تر ابن خردادبه وروسته په (۲۵۵ هـ) کال ليکلی دی هم د قندهار فتح د مسلمانانو په لاس د سند په فتوحاتو کښي داسي ښيي:

"و غزا عباد بن زياد ثغو ا لهند من سجستان فاتی سناروذ ثم اخذ علی حوی کهزالی الروذبار من ارض سجستان الی الهند من فنزل کش و قطع المفازه حتی اتی القندهار فقاتل اهلها فهزمهم و فلهم و فتحها بعد ان اصيب رجال من المسلمين و رای قلانس اهلها طوالاً فعمل عليها فسميت العباديه و قال ابن مفرغ:

کم بالجروم و ارض الهند من قدم
و من سرائنك قتلی لا هم قــــــبروا
بقندهـــــــــار و من تکـــتب منيته
بقندهار يرجم دونه الخـــــــير[۱۳]"

عباد بن زياد د حضرت معاويه  وراره دی، چي تر ٤٤ هـ کال وروسته د سنا رود او کهز (اوسني قلعهٔ گز) او د هندمند (هلمند) د غاړو له خوا پر کش (اوسني کشکنخود) باندي راغی او قندهار يې ونيولی او پر دغه يې عباديه نوم کښېښو، جگي خولۍ چي بلاذري دلته ذکر کړيدي، تر شل کاله دمخه لا په قندهار کښي عامي رواج وې، اوس هم لږ لږ سته په پښتو يې "تېښ" بولي. بلاذري د قندهار تر نيولو وروسته ليکي، چي عباد بن زياد منذر بن الجارود العبدي د هندوستان فتح ته واستاوه او ده بوقان او قيقان (؟) هم ونيول. قصدار يې فتح کی، چي د اوسني بلوچستان له ښارو څخه دی. د بلاذري له بيانه ښکاره ده چي د قندهار ښار هغه وخت تر کش (کشکنخود) وروسته د قصدار او سند او بلوچستان په لار کښي وْ، چي غالباً به دغه اوسنی ځای وي.

مگر ابن خردادبه وروسته تر دي چي يوه پلا قندهار د سند په ښارو د المسالك و الممالك په ٥٥ مخ کښي په (٦٨) مخ کښي بيا قندهار د هند يو مشهور ښار د کشمير ساری هم بولي، له دغه روايته او دنورو تاريخ ليکونکو له ليك څخه دا څرگنديږي چي تر اوسني قندهار علاوه يو بل جلا ښار د قندهار په نامه په جنوبي هند کښي هم وْ، لکه چي د عربو مشهور مؤرخ او سياح ابو الحسن على مسعودي په (۳۳۲ هـ) کال د قندهار په باره کښي ليکي:

"والقندهار يعرف ببلاد الرهبوط [۱٤]".

رهبوط د هندوستان اوسنی راجپوت دی، دغسي هم ابوالفضل د مغولي عصر مؤرخ چي گندهار د هند يو ساحلي ښار دی بهروچ ته نژدې[۱۵].

ابن بطوطه د مراکش مشهور سياح (۷۷۹ هـ) هم په دغه گندهار کښي د ابراهيم نومي ماڼگي په بېړۍ کښي سپور سوی وْ[۱٦].

شاري مقدسي (۳۷۵ هـ) د عربو جغرافيا يو تاريخ ليکونکی و د ملتان په خصوص کښي ليکي: چي هلته د فاطمي پاچهانو د مسکوکاتو په ډول سکه سته، اما ډېر هلته قنهريات [۱۷] رواج لري.

ستراليټ د سند د تاريخ ليکونکی دغه کلمه قندهاريات بولي او ليکي چي دغه سکي په قندهار کښي وهل کېدې. ځکه چي د "قندهارۍ" په نوم ډېر مسکوکات تر لس کاله پوري دمخه لا هم په قندهار کښي رواج وه او ما ډيري سکې د "قندهارۍ" په نوم ليدلي دي چي د احمدشاه بابا په عصر کښي په ملتان کښي سکه سويدي، نو له دغه سببه ويلای سو چي د بشاري مقدسي قنهري دغه "قندهارۍ" وه چي له قديمه تر اوسو وختو پوري دغه

رسم پاته و[۱۸].

ابوالفدا مؤرخ د تقويم البلدان په (۲۷۵ ) مخ کښي ليکي چي د سند په وادي کښي ويهند يو ښار دی چي د ګندهار پايتخت ګڼل کيږي، عبدالحی ګرديزی د پنځمي هجري پېړۍ مؤرخ ليکلي دي، چي په ۳۹۳ هـ کښي سلطان محمود زابلي د پېښور تر نيولو وروسته دغه ښار فتح کړ[۱۹].

مسټر استمټ پخپل تاريخ هند کښي وايي: چي مسلمانانو کابل ونيولی تر دغه وروسته نو د کابل شاهانو مرکز اوهند ۋ، چي د سند پر غاړه واقع ۋ[۲۰].

د سيستان تاريخ چي د پاړسي ژبي له زړو تاريخونو څخه دی او د تاليف تاريخ يې له (٤٤٥ څخه تر ۷۲۵ هـ) پوري تخمين کيږي، هم ليکي چي عباد بن زياد د سيستان پر لارکابل ته او له هغه ځايه قندهار ته وروسته نو هند ته (لکه بلاذري چي ليکلي دي) د ۵۳ هـ کال په حدودو کښي ولاړ[۲۱].

نتيجه :-

له لوړو رواياتو څخه چي مشهورو مؤرخينو ليکلي دي او موږ لنډ ذکر کړه دا نتيجه لاس ته راځي چي پخوا درې ځايونه د قندهار په نامه مشهور وه:

(الف) د ګندهارا ولايت چي د پېښور او مشرقي خوا اوکابل پر مځکو شامل ۋ او د داريوش په کتيبه او د هرډوټ په تاريخ او تقويم البلدان کښي د ابوالفدا يې ذکر سويدی.

(ب) د ګندهار ښار په جنوبي هند کښي چي ابن خردادبه په المسالك والممالك او مسعودي په مروج الذهب، او ابن بطوطه په خپله سياحت نامه کښي راوړی دی.

(ج) اوسنی زموږ د قندهار ښار چي ابن خردادبه جلا د سند په مشهورو ښاروکښي، او بلاذري هم د سند په فتوحاتو کښي، او بشاري مقدسي په احسن التقاسيم کښي د دغه نوم اخيستی دی. او د "قندهارۍ" د مسکوك په خصوص کښي مسټر اليټ هم ذکر کړی دی.

له تاريخي پلټنو څخه دا ښکاره کيږي چي دغه ښار د اسلام د راتګ پر وخت موجود ۋ وروسته نو کله له سند او کله په زابلستان او رخج يا رخد کښي شمېرل کيږي.

دوکتور ويلهلم جيګر د المان شرقشناس وايي چي دغه ښار لمړی پلا لهراسپ بناء کړی دی چي په اوستا کښي (اردت اسپه) بلل کيږي[۲۲]. جيګر په دغه باب کښي د فريز نظريات هم خپل دليل ګڼي[۲۳].

دغسي هم د المان يو بل علامه هرټسلفد وايي چي د اشطاني شاهنشاهانو (۲۵۳ قبل الميلاد تر ۲۲٤ ميلادی) په عصرکښي يو سلسله اميران په قندهارکښي وه چي دوی يې (ګندوفر) بلل، هر ټسلفد وايي چي زابلی رستم هم له دغي کورنۍ څخه ۋ. دا وه هغه تاريخي يادداښتونه چي د قندهار په خصوص کښي لاس ته راغلي دي.

(٤) کوټ :-

دا کلمه له ابتداء څخه د پښتو په ادبياتو او محاوره کښي مستعمله ده، معنی يې قلعه ده، که څه هم ځني خلکو په معنی د کلي او قريه هم ګڼلې ده، مګر له ادبي اسنادو څخه ښکاره ده چي په پښتو کوټ قلعه او بارو ته وايي، پښتون کوټ يعنی د پښتنو کلا، عمرکوټ يعنی د عمر کلا، مثلاً خوشحال خان خټك وايي:

که هر څو وکړې د دنيا عـــيشونه
کوټونه مات کړې پخپل جيشونه

دکتور جيګر د المان مشهور محقق او مؤرخ د اوستا د عصر د ژوندون تفصيل ليکي او وايي چي د هغه عصر خلکو په مناسبو ځايو کښي ټينګي کلاوي او مستحکم کوټونه جوړ کړي او پر اطرافو د دېوال يې ژور خندقونه

کښلي وه، دغسي يې هم د مړو د ايښوولو او هديرې لپاره محکم ځايونه درلوده[۲٤]. چي د دغو ځايو او کلاوو نومونه د ونديداد په کتاب کښي چي د اوستا يو ټوك دی (کته) ذکر سوی دی[۲٥].

د کلاوو جوړول تر اوسه د پښتنو رواج دي، دکوټ کلمه چي تر اوسه په پښتنو کښي مستعمله ده او درې قرنه په ادبياتو کښي ساتلې راغلې ده، ريښه يې هغه کته د اوستا ده، چي د ونديداد په ټوکو کښي يې ذکر راغلی دی.

(٥) د نورو کلماتو پلټنه او ريښه:-

هواد په پښتو ژبه، د موطن او مسکن او هجرتګاه په معنی مستعمل، او د غرو د خلکو په محاوره کښي لږ لږ ليدل کيږي، مثلاً خوشحال خان ختك وايي:

د هواد ياران مي هر زمـــــــان يادېږي
چي يې مخ په خوب کښي و وينم وويارم

پيرمحمد کاکړ د احمدشاه بابا دکورنۍ استاد وايي:

مورږ راغلي طوطيان د بل هـــواد يو
د قسمت په لومه بند يو بيا به ځونه

د دې کلمې ريښه هد دی، چي په سنسکريت کښي سد ويل کيږي، د اوستا دګاتو په برخه کښي د کښېنستو يا د ناستي ځای بلل سوی، دغسي هم هدمن او هديش او اوستا په ويسپرد کښي څو واره ذکر سوی دی.

دا کلمې د هغه هد له ريښې څخه راوتلي دي[۲٦] او په پښتو کښي يې هواد يو بل شکل تر اوسه په هغه معنی او اصل سته.

دغسي هم کلمه دکرل (کاشتن) د اوستا دکرش[۲۷] څخه راوتلې چي په زړه هندي کښي کرشتی، يا چرشتي هم په دغه معنی سته، په پښتو کرنه، کرهڼه هم ويل کيږي، د زړو آريانانو پنځه قومونه پخوا کرشتي بلل کېده[۲۸] او په اوستا کښي کرشيوت د دهقان او کرونکي په معنی مستعمل وْ.

دغسي هم د اوستا د يشت په برخه کښي[۲۹] خشتاوی د جنګجو او قوي او دلاور په معنی راغلی دی چي اوس د پښتو غښتلی هم په دغه معنی ورنژدې دی، او دغسي يې ريښه ګڼله کيږي، دغسي هم مهر[۳۰] يعنی مرګ د پښتو و مړ ته او زيا يا زيم[۳۱] په معنی د ژمي، او سندهوا يعنی رود (چي په ريګويدا کښي راغلی دی) د پښتو سيند ته، او مزګهه (اوستا) د پښتو مازغه ته (مغز) او وهوني (اوستا) و ويني (خون) ته، او اينيکه (اوستا) او اينکه (سنسکريت) و اننګي (پيشانی) ته د پښتو نژدې دي[۳۲].

د اوستا ګاوشه او غوږ هم سره ليري ندي ټامسچك د ژبو محقق د پامير د ژبو په کتاب (ص ٥٠) کښي ليکي، چي هلته ګوخ ورته وايي. په پښتو اوس پچه، د کُلالۍ کوره او داښت بولي، دغه کلمه په اوستا کښي د خمبی سره يو ځای راغلې ده، پچيکات، خمبت[۳۳] مګر اوس د خمبي معنی لږ څه تغير کړی، او کندو ته وايي، ځکه چي پښتانه د غلې د ساتلو کندو عيناً لکه تنور يا کوره داسي جوړوي.

د اوستا د يشت په برخه ٦۲ باب ۱۰ فقره کښي خشپنه د شب په معنی راغلې ده، چي په پښتو کښي يې تر اوسه (شپه) مستعمله ده، او لکه دوکتور زمر چي وايي[۳٤] آريايي اقوامو په پخوانو زمانو د اوقاتو په شمېر کښي شپې ته اعتبار ورکاوه، او دغه عادت په هنديانو او جرمنيانو کښي هم سته، او پښتانه ټوله تر اوسه هم د شپې حساب کوي، مثلاً څو شپې دي پر لاري وکړې؟ کابل ته موټر په دوې شپې رسيږي.

د (اوج) کلمه چي په علم هيئت کښي خورا لوړ ځای ته وايي، دغه کلمه په سانسکريت کښي "اوچ" ده او

خوارزمي په مفاتيح العلوم کښي[۳۵] او دغسي هم اسدي د قديمي فارسي په لغت کښي (اوګ) ليکلی دی، چي په پښتو کښي تر اوسه (اوچت) د لوړ او مرتفع په معنی مستعمل او ريښه يې خورا زړه ده، چي عربو په معرب ډول (اوج) او په پارسي کښي (اوګ) او په هندي کښي (اوچ) ويلی دی، ځکه چي د آريان د زاړه مدنيت مرکز افغانستان او د دوی د زړې ژبي ځای هم دغه دی، نو ويلای سو چي د پښتو اوچت له هغه وخته پاته دی.

بته : يو راز پخې وريجي دي، چي په پښتو کښي ډيره دغه کلمه مستعمله ده، خوارزمي په مفاتيح العلوم کښي دغه سندی کلمه ګڼي او معرب يې بهطه راوړي[۳٦]. په هندي هم بهات د دغي کلمې يو شکل دی، او له دغه ښکاريږي، چي په اصلي آريايي ژبه يې ريښه يوه وه[۳۷].

(٦) ستوپه، پوپ:-

ستوپه يعني مدور عمارت د نيمي دايرې په ډول، چي په اروپا کښي ترميولای ودانۍ په دغه شکل وي، دغه ستوپه د زاړه تعمير په فن کښي د افغانستان يو مهم تر يادګار دی، چي يو له دغو څخه د هند په سانچي کښي تر اوسه سته، او اشوکا د افغانستان معروف شاهنشاه تر ميلاد درې سوه کاله دمخه جوړ کړی دی[۳۸].

علامه سيد سليمان ندوی د دغي کلمې دغسي شرح ليکي[۳۹] :

چي ياقوت د بلخ د نوبهار قبه اوګنبده "استن"[٤٠] بللې ده، او ابن الفقيه همداني مؤرخ "اسبت"[٤١] ليکلې ده، مګر معروف محقق ډي ګوجي De Gogi چي د عربو آثارو ناشر دی د دغي کلمې مختلف اشکال له خطي نسخو څخه داسي راوړي دي (استن، است، اسبت) چي صحيح يې (استب) دی چي د ستوپه د مشهوري کلمې مفرس يا معرب ګڼل کيږي، او دغه بودايي کلمه ده، دوی هغه معابد چي د خپلو ديني مشرانو ايرې به يې پکښي ايښووې ستوپه بلل.

د داسي ودانيو آثار چي پر لوړو غونډيو به جوړېدل په افغانستان کښي ډېر دي، چي د کابل مجلې په وارو _ وارو بيان کړي دي په پښتو دغه عمارتونه (توپ) بولي، چي آثار باقيه يې د جلال آباد د درنټې د پل سره تر اوسه سته او پښتانه يې (ښتايسته توپ) بولي، د توپ د کلمې ريښه هم خورا زړه ده، او د بودايي کلمې ستوپه سره نژدېوالی لري.

(۷) بلاذري او د افغانستان ښارونه :-

تر اسلام دمخه او وروسته زموږ د وطن شمالي خواو او د هلمند او سيستان مځکو لوړ مدنيت درلود، او خورا وداني وې، دغه ځايونه د آريانانو جولانګاه وه، او وروسته بيا لوی لوی ښارونه پکښي ودان وه، دکتور جيګر المانی ليکي چي دګرشك شاوخوا ته ډيري خرابې او زاړه آثار سته، د هلمند پر دواړو غاړو د زړو ودانيو نخښي ليدلي کيږي، چي د لويو ښارو آثار دي، چي د سکندر په وخت کښي ودان وه،[٤٢] دغسي هم ايبيد د فراه په خصوص کښي ليکي چي: زړه فراه د اسکندر دمخه ودانه وه[٤٣] چي د اسلام مجاهدين له ايرانه پر دې خوا راغله، په دغه خوا کښي لوی لوی ښارونه وه، چي د کابلشاهانو تر تسلط لاندي وه، د اسلام مشهور مؤرخ بلاذري بغدادي په دغه باب کښي مفصل ليکلي دي چي لنډ يې موږ دلته ذکر کوو:

په ۳۰ هـ کال ربيع د زياد زوی د انس حارثی زوی، سيستان او فهرج ته راغی، له دغه ځايه زالق ته چي (۷۵) فرسخه له فهرجه ليري دی ولاړ د زالق او سيستان تر منځ پنځه فرسخه لار ده، او يوه کلا هم لري، وروسته نو د کرکويه کلي ته چي (۵) ميله له زالقه ليري دی راغی او خلك يې بې جنګه تسليم سوه وروسته يې نو هيسون هم فتح کی[٤٤].

لمن لیکونه


۱. زوړ ایران ج ۱ ص ۱۱.
۲. ښايي د کوکچي رود وي چي په قطغن کښي دی.
۳. د دوکتور جیګر الماني د آریانانو تمدن ص ۷٤ _ ۷٥
٤. د آریانانو تمدن ج ۱ ص ۷۰ _ ۱۰۸ _ ۸۱ _ ۱۱۳
٥. د اوستا د کتاب یشت برخه ۱۹ باب ٤۱ فقره
٦. د پښین او کاکړو جنوبي خواته په اوسني بلوچستان کښي د کوټې و جنوب مشرق ته یوه لوړه مځکه ده چي له ٦ نه تر ۸ زره فوټو پوري له بحره لوړه ده دغه ځای تر اوسه (کندهر) بلل کیږي چي د مچ او حیدرزو ټپسن دی، د مغرب او خالو او تور غر او شبان یې د مشرقي خواته پراته دي.
۷. د خاوري آریانانو تمدن ج ۱ ص ۱۰۷ _ ۲۰۸
۸. د ای مارسډن د هند تاریخ ج ۱ ص ۳٦ _ ۳۷
۹. حیات افغاني ص ۳۳
۱۰. د زاړه ایران تاریخ ج ۱ ص ۱۱۰
۱۱. کابل ج ۱ ګڼه ۹
۱۲. المسالك والممالك د ابن خردادبه ص ٥٥
۱۳. د بلاذري فتوح البلدان ص ٤٤۰ د مصر طبع
۱٤. د مسعودي مروج الذهب ج ۱ ص ۳۷۲
۱٥. آئین اکبري
۱٦. عجائب الاسفار د ابن بطوطه ج ۲
۱۷. احسن التقاسیم ص ٤۸۲
۱۸. قندهارۍ د قندهار په زاړه حساب (۲٦) پیسې او (٦) مثقالۍ او درې عباسۍ وه
۱۹. زین الاخبار ص ٦٦
۲۰. ص ۲٤٥ ج ۱
۲۱. تاریخ سیستان ص ۹٥
۲۲. د آریانانو تمدن ج ۱ ص ۲۷٥
۲۳. د فریز مسافرتونه ج ب ۱۳۲
۲٤. د آریانا تمدن ج ۱ ص ۲٥۸ _ ۲٦۰ _ ۲٦۸
۲٥. وندیداد باب ٥ فقره ۱۰ باب ۸ فقره ۱۰۳
۲٦. تمدن آریان د جیګر الماني ج ۱ ص ٤٤٤
۲۷. یسنا باب ۲ فقره ۲
۲۸. جیګر المانی
۲۹. باب ۱۳ فقره ۳۷ _ ۳۸
۳۰. جیګر المانی
۳۱. جیګر المانی

۳۲. د المان د شرقي انجمن جریده ج ۳٤ ص ٤۱۹
۳۳. وندیداد باب ۸ فقره ۸٤ _ ۸٥
۳٤. هند قدیم ص ۳٦
۳٥. ص ۲۲۱ د لیډن طبع
۳٦. ص ۱۷۷
۳۷. تعلقات هند و عرب د سید سلیمان ندوي
۳۸. تمدن هند دګوستاولوبون ص ۳٥۸
۳۹. تعلقات هند و عرب ص ۱۲۰
٤۰. معجم البلدان ج ۸ ص ۳۲۱
٤۱. کتاب البلدان ص ۳۲۳
٤۲. د آریان تمدن ج ۱ ص ۲٥۷
٤۳. ایبیډ ج ۲ ص ۱۷۸ _ ۲۷۹.
٤٤. طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمریز کال، پرله پسې : ٤۱، ٤۲، ٤۳، ٤٤، ٤٦ او ٤۸ ګڼې.